د واکسینو د معلوماتو بیانیه

Many Vaccine Information Statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسین معلوماتو ډېری بیانیې په پښتو او نورو ژبو موجود دي. وګورئ www.immunize.org/vis

# د RSV (Respiratory Syncytial Virus) واکسین: هغه څه چې تاسو یې په اړه باید پوه شئ

## 1. ولې باید واکسین وکړو؟

د **RSV واکسین** کولی شي د **تنفسي سنسیشیال ویروس (RSV)** له امله پیدا کیدونکي د لاندینۍ تنفسي مجرا ناروغۍ مخه ونیسي. RSV یو عام تنفسي ویروس دی چې عموماً د خفیف، زکام ډوله علایمو لامل کیږي.

RSV د هر عمر خلکو کې د ناروغۍ لامل کیږي خو د تنکیو ماشومانو او د ډېر عمر لویانو لپاره په ځانګړې توګه جدي کېدلی شي.

- RSV د متحده ایالاتو په تېخور ماشومانو کې په روغتون کې د بستر کیدو ترټولو عام لامل دی. تر 12 میاشتو پورې عمر لرونکي تېخور ماشومان (په ځانګړې توګه 6 میاشتني او کم عمر لرونکي) او هغه ماشومان چې بې موده زیږیدلي، یا هغوی چې د سږو یا مزمن ناروغۍ یا د معافیت ضعیف سیستم لري، هغوی د RSV شدید ناروغۍ خطر سره مخ دي.
- RSV انتانات د ځینو لویانو لپاره خطرناک کیدی شي. د RSV شدید ناروغۍ خطر سره مخ لویانو کې د ډېر عمر لرونکي خلک، د مزمن طبي ناروغیو لکه د زړه یا سږو ناروغیو لرونکي، د معافیت ضعیف سیستمونو لرونکي، یا ځینې نور طبي ناروغیو لرونکي شامل دي، یا هغوی چې د رنځورپالنې کورونو یا د اوږدمهاله پاملرنې تاسیساتو کې اوسیږي.

RSV د ویروس سره د مستقیم لمس له لارې خپریږي، لکه د بل فرد د ټوخي یا پرنجې څاڅکي ستاسې سترګو، پزې یا خولې سره په تماس کې شي. دا د داسې سطحو لمس کولو له لارې هم خپریدای شي چې ویروس وربانديې موجود وي، لکه د دروازې لاستی، او بیا د خپلو لاسونو مینځلو څخه مخکې که تاسې خپل مخ لمس کړئ.

د RSV انتان علایمو کې د پزې بهیدل، په اشتها کې کموالی، ټوخی، پرنجی، تبه یا د سینې خرار شاملیدای شي. په تېخور ماشومانو کې د RSV علایمو کې ناکراري (بدخویې)، د فعالیت کمیدل، یا ساه بندیدنه (ساه اخیستلو کې د 10 ثانیو څخه ډېر ځنډ) شاملیدای شي.

ډېری خلک په یوه یا دوه اونیو کې ښه کیږي، خو RSV شدید کېدلی شي، چې په پایله کې د ساه لنډۍ او د اکسیجن د سطحې د ټیټوالي سبب کیږي. RSV د برونکیولایټس (د سږو د هوا د کوچنیو لارو پړسوب) او د سینه بغل (د سږو عفونیت) لامل کیدی شي. ځینې وختونه RSV د نورو روغتیایي ستونزو د لا خرابیدو لامل کېدلی شي لکه استما یا ساه لنډې، د سږو د بندښت مزمنه ناروغي (د سږو یوه مزمنه ناروغي ده چې له امله یې د ساه اخیستل سختیږي)، یا د زړه ناکامي (کله چې زړه نه شي کولی بدن ته کافي وینه او آکسیجن ورسوي).

د ډېر عمر لویان او تېخور ماشومان چې د RSV څخه ډېر ناروغیږي ښایي په روغتون کې بستر کیدو ته اړتیا ولري. ځینې یې حتی مړه کیږي.

## 2. د RSV واکسین

د RSV پروړاندې د تېخور ماشومانو د محافظت لپاره دوه انتخابونه شتون لري: د بلاربې ښځې لپاره د مور واکسین او ماشوم ته ورکول کیدونکي وقایوي انتي باډیز. د ډېری کوچنیو ماشومانو د محافظت لپاره لدغو انتخابونو څخه یوازې یوه ته اړتیا ده.

CDC د 6 میاشتو څخه کم عمر لرونکي تېخور ماشومانو کې د RSV ناروغۍ د مخنیوي لپاره **بلاربو ښځو ته د حمل 32 څخه تر 36 اونۍ پورې** د RSV واکسین د یوه دوز سپارښتنه کوي. دا واکسین د امریکا متحده ایالاتو ډېری برخو کې د سپتمبر څخه تر جنورۍ پورې موده کې سپارښتنه کیږي. په هرصورت، په ځینو ځایونو کې (د بیلګې په توګه، سیمې، هاوایي، الاسکا، او د فلوریډا ځینې برخې)، د واکسیناسیون وخت د کال په هغه وخت کې توپیر لرلای شي کله چې RSV په سیمه کې خپریږي.

CDC د RSV واکسین د یو ځل دوز د 75 کالو **یا زیات عمر** د هر فرد لپاره او د 60 څخه تر 74 کلونو پورې د لویانو لپاره توصیه کوي چې د RSV ناروغۍ ډېر خطر لري. د 60 څخه تر 74 کلونو پورې بالغان چې د ډېر خطر سره مخ دي پدې کې هغه کسان شامل دي چې د زړه یا سږو اوږدمهاله ناروغۍ د معافیت کمزوري سیستم، یا ځینې نور اوږدمهاله طبي حالتونه لري، او هغه کسان چې د نرسنګ کورونو اوسیدونکي دي.

د RSV واکسین ښایي د نورو واکسینونو سره په ورته وخت کې ورکړل شي.

## 3. له خپل روغتیاپال سره خبرې وکړئ

د واکسینو چمتو کوونکي ته خبر ورکړئ که چېرې واکسین کیدونکی شخص:

- د RSV واکسین **د مخکیني دوز وروسته حساسیت درلودلی وي**، یا کوم **سخت، د ژوند ګواښونکي حساسیت ولري**

په ځینو مواردو کې، ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی ښایي پریکړه وکړي چې د RSV واکسین تر راتلونکي لیدنې پورې وځنډوي.

د زکام په څېر د کوچنیو ناروغیو لرونکي خلک هم واکسین کېدای شي. هغه کسان چې په منځنۍ ډول یا سخت ناروغه وي زیاتره د RSV د واکسینو له ترلاسه کولو مخکې تر رغیدو پورې انتظار باسي.

ستاسو روغتیاپال کولی شي په دې اړه تاسو ته ډېر معلومات درکړي.

U.S. CENTERS FOR DISEASE CONTROL AND PREVENTION

## 4. د واکسین عکس العمل خطرونه

- د واکسین د تزریق په ځای کې درد، سوروالی، او پړسوب، ستړیا (د ستړیا احساس کول)، تبه، سر درد، زړه بدی، نس ناستی، او د عضلاتو او جوړونو درد د RSV واکسین وروسته پېښېدلی شي.

شدیدې عصبي ستونزې، د Guillain-Barré syndrome (GBS) په ګډون، په کلینیکي ازموینو کې د RSV واکسین وروسته په لویانو کې راپور شوي دي. د 60 څخه تر 74 کلونو پورې بالغان چې د ډېر خطر سره مخ دي پدې کې هغه کسان شامل دي چې د زړه یا سږو اوږدمهاله ناروغۍ، د معافیت کمزوري سیستم، یا ځینې نور اوږدمهاله طبي حالتونه لري، او هغه کسان چې د نرسنګ کورونو اوسیدونکي دي.

د امیندوارۍ پرمهال د هغه بلاربو ښځو ترمینځ چې د RSV واکسین یې کړي د پري – ایکلامپسیا پشمول د بې مودې زیږون او د حمل په جریان کې د وینې لوړ فشار پیښو راپور ورکړل شوی دی. دا خبره واضح نده چې آیا واکسین د دغه پیښو لامل و.

خلک ځینې وختونه د واکسینو په ګډون له ځینو روغتیایي کړنلارو وروسته بې هوښه کیږي. که په تاسو سرګرځیږي، یا مو په لیدو کې بدلون راغلی وي یا مو په غوږ کې زنګاری وي، په اړه یې خپل روغتیاپال ته ووایاست.

لکه د نورو درملو په څېر، واکسین هم په ډېر نادره توګه له سخت حساسیت، نورو جدي ټپونو، یا مړینې سبب ګرځېدای شي.

V-safe د خوندیتوب څارنې یو سیستم دی چې تاسو ته اجازه درکوي ترڅو له CDC سره هغه څه شریک کړئ چې تاسو، یا ستاسو پورې تړلي، یو څوک یې د RSV واکسینو له ترلاسه کولو وروسته احساس کوي. تاسو په V-Safe کې په [vsafe.cdc.gov](https://vsafe.cdc.gov) کې معلومات موندلای شئ او نوم لیکنه کولی شئ.

## 5. څه به کیږي که چیرې کومه جدي ستونزه شتون ولري؟

یو حساسیتي عکس العمل کېدای شي هغه مهال رامنځته شي چې کله واکسین شوی کس له کلینیک څخه ووځي.  که تاسو د جدي غبرګون نښې لکه (ټپونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفسي ستونزې، د زړه چټک ضربان، ستړیا، یا کمزوري) ولیدلې نو **9-1-1** شمېرې ته زنګ ووهئ او اړوند شخص تر ټولو نږدې روغتون ته انتقال کړئ.

د نورو هغو علایمو لپاره چې تاسو یې په اړه اندیښنه لرئ، خپل د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي ته زنګ ووهئ.

د منفي عکس العملونو په اړه باید د Vaccine Adverse Event Reporting System د (واکسینو ضرري پېښو د راپور سیستم) (VAERS) ته راپور ورکړل شي. ستاسو روغتیاپال زیاتره دا ډول راپورونه ثبتوي، یا تاسو خپله باید دا کار وکړئ. له VAERS وېب سایټ څخه په دې پته لیدنه وکړئ [www.vaers.hhs.gov](https://www.vaers.hhs.gov) یا دې شمیرې **1-800-822-7967** ته زنګ ووهئ. *VAERS یواځې د عکس العملونو په اړه د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکوونکي روغتیایي مشورې نه ورکوي.*

## 6. څرنګه کولی شم نور معلومات لاسته راوړم؟

- له خپل روغتیاپال څخه پوښتنې وکړئ.
- خپلې ځایي یا ایالتي روغتیایي څانګې ته زنګ ووهئ.
- د واکسینو د کڅوړې او په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره د خوړو او درملو ادارې (FDA) اړوند دې ویب پاڼې [www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines](https://www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines) ته ورشئ.
- د Centers for Disease Control and Prevention (ناروغیو د کنترول او مخنیوي مرکز) (CDC) سره په اړیکه کې شئ:
  - زنګ ووهئ **1-800-232-4636 (1-800-CDC-INFO)** یا
  - د CDC وېب سایټ ته په [www.cdc.gov/vaccines](https://www.cdc.gov/vaccines) ورشئ.

Pashto translation provided by Immunize.org